مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست ۲۰۲۵/۱۱/۲۳

# وچکالي او د هواحالات

مولوي حسام الدين حسام صيب ته مي ويل:
وچکالي ده. د باران درک نسته، وچ يخ دی او بېلابېلي ناروغی دي.
لنډ يي وويل: هو
ما ويل خدای ج دي، د رحمت باران وکړي چي له دي جنجالونو خلاص شوو.
فقط آمين يي وويل.
زړه مي تنګ سو: زه در سره پر مهمه موضوع خبري کوم او ته په نه زړه، لنډ لنډ ځوابونه راکوي؟
په خندا يي وويل: نه ښايي موږ علماو لره، چي ضايع کړو طلايي وخت خپل، له اميانو سره په خبرو!
زما يي هم قهر راوست: ته نو څه داسي د يورانيمو په غني کولو بوخت يي؟
په وياړ يي وويل: زموږ بېکاره ناسته، د تاسو عوامو له کاره، افضله ده!
غلی شوم. بيا مي ويل: ګوره، خير دی. پر مقتديانو دي ږغ وکړه او استسقاء لمانځه ته يي ته راوبوله .
غلی شو او بيا يي ويل: د هوا حالات څارم، يو مناسب وخت کي به پري ږغ وکړم.
ما ويل: و سريه، همدا يي مناسب وخت دی، بېړه کوه. زکام او د ستوني تکليفونو غرق کړو.
سرې په خندا سو: مناسب وخت دا مانا چي کله د هوا حالاتو د معلومولو اداري، وړاندوينه وکړه چي سبا يا بل سبا باران دی؛ باره، زه به هم خلک استسقاء ته راوبولم.
ما ويل: های های، بيا نو ستا رابلل څه مانا؟
ورو يي وويل: زموږ هم هغه پخوانی مزه نسته، که لمونځ وکړو دعاء مو قبوله نسي او باران ونسي، د تاسي عوامو باور به پر موږ ختم سي.
ما ويل: اوس نو چيرته داسي...
ژر يي خبره را پرې کړه: بس، بس. په لوی لاس ځان د هلاکت کندي ته مه غورځوه!
ووېريدم او ژر غلی شوم .
لږ وروسته مي ورته ويل: ستا خو له ساينس او عصري علومو سره ډېزې دي، د هوا حالات خو همدا ساينس معلوموي ولي يي مني؟
سوړ آسويلی يي وکړ: ساده ګله. دا اوس چي په موبايل در سره خبري کوم، د ساينس ايجاد دی. دا لاوډ سپيکر کي چي تقرير کوم د ساينس ايجاد، پر دا خپل سيونتي موټر سايکل چي ګرځم د ساينس برکت دی او دا اوس چي مي په ګوتو کي ډيجيټال تسبيح دي، دا هم و قس علی هذا.
ما ويل: نو بيا؟
په غوسه يي وويل: له يوې خوا د تاسو بدبختو اميانو ميلان و ساينس او عصري علومو ته ډېر دی، له بلې خوا يي که زه هم پر ارزښت خبري وکړم لا به دا ميلان زيات سي. دی سره به تاسي ګمراهان، له موږ سره بيخي فاصله پيدا کئ!
له نږدې لاوډ سپيکره خبري شروع شوې. مولوي صيب، همدې خبرو ته ځير شو او راته ويل يې: بند کړه، دا بيهوده بحث. جومات کي د جنازې اعلان دی!
ما ويل: جنازه خو فرض کفايي ده، چي کوم کليوال يا د کورنی کوم غړي اشتراک وکړ، کفايت کوي .
سرې جذباتي سو: تاسي اميان اوس دومره شوئ چي موږ ته مسائل تشريح کوئ؟
موږ ستاسو په کار کي کله نوکي مداخله هم کړې؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

ما ويل: مداخله څه ته وايې؟ فقط دومره خبره پاتې چې دستکشې په لاس کړئ او جراحي عملياتونه هم وکړئ.
سړی بيخي شاټ شو، له وقفې وروسته يې تېره خبره پسې وغځوله:
له ساينس سره زموږ ورانه له دې کبله هم ده چې د انټرنيټ په ذريعه يې علم له کتابونو را وويست او عام يې کئ.
اوس لا ځين بد بختان ،چې له کومې مسئلې سره مخ سي، د پخوا په څير موږ ته مراجعه نکوي. ګوګل کې يې ګوري.
ما ويل: د جنازې د فرض کفايي خبره خو به مې بې ځايه نه وي کړي؟
وې خندل: نه؛ خو ته سر نا خلاصه، له دې اعلان سره زما د دلچسپۍ پر حکمت نه پوهيږې.
هلته يوازې د جنازې خبره نه وي، د سقاط خبره هم وي او بيا ورپسې د خيرات هم.
دا طلايي فرصت به هيڅکله له تا غوندي امي سره په خبرو ضايع نکړم.
نور يې مبارک ږغ بند سو

.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ